لیکوال: هاري　　　　واشنګټن ۲۰/۰۲/۲۰۰۹

# پر افغانستان باندي د شوروي او امريکا بريدونه

قريب يوه اونۍ مخکي د متحده ايالاتو ورجينيا ايالت کي، د واشنګټن شاوخوا ځو مخور او منور افغانان د پخوا په شان د سپرنګفيلډ په مسانيک لاج کي راغونډ سوی وه، او د ملي وحدت د مسلې په چوکاټ کي يې خبری کولې. پدې غونډه کي، د ښاغلو رسول امين، سعدالدين شپون، حفيظ الله کرزي، سمندر غورياني، عبدالهادي عطايي، د عطاالله صادق په ابتکار او کوربتوب ، او يو لړ نورو اشخاصو په ګډون ماته هم د خبرو کولو چانس برابر سو.

زما د وينا اصلي ټکی د افغانستان پر قومي يووالي او جوړښت باندي د شوروي او امريکا د اشغالونو منفي اثرات وو. غواړم چی دا دوه اشغالونه سره مقاسه کړم.

محترمو لوستونکو ته ښکاره ده چي د ۲۰۰۹ د فبروري په ۱۵ د شوروي اتحاد د تباه کوونکي اشغال او تېري شلمه کليزه وه. شوروي وروسته له لسوکالو تباهيو او مرګ ژوبلو ځخه نه يوازي مات بلکي د افغانانستان تجاوز ورته د ناسور ټپ سو، او بالاخره همدا ناروا او وچ ظلم د شوروی کور هم خراب کړ، او دکمونيستي بلاک له نهايي سقوط او رسوايي سره يې په کافي اندازه مرسته وکړه. پمن برېژنف او د هغه نورو تر وخت تېرو د پوليټبيرو غړو په ۱۹۷۹ کي پر يوه داسي ملک باندي تېری وکړ چي د بلشويک ګوند د وروستي ديکتاتوری او ايديولوژئ لپاره، په هيڅ ډول ، نه جدي خطر وو، او نه هم په راتلونکي کي کېدای سواې.

پدې تېرو ديرشو کلونو کي، افغانستان دوه ځله اشغال سوی دی. يو ځل، په ۱۹۷۹ کي د شوروي تجاوز وو؛ او بل ځل، په ۲۰۰۱ کي د امريکا اشغال دی. د نويو تاريخي اسنادو په اساس، زه دي عقيده ته رسېدلی يم چي دواړه اشغالونه تصادفي دي. په بل عبارت، د پخوا ځخه پلان سوي نه وه.

که څه هم، روسانو په افغانستان کي خلقي -پرچمي ګوډاګيان له ډېر وخت ځخه روزل، پيسي او سياسی ملاتړ يې ورکاوه، خو د افغاني کمونستانو د ۱۹۷۸ تباه کوونکي کودتا د کي جي بي د نويو اسنادو او شواهدو په اساس يوه تصادفي کودتا وه. د کرملين خوړين او ناشولټه مشران يې هک پک کړي وه. مانا دا چی په هغه وخت او زمان کی شوروريانو اراده نه درلوده چي په افغانستان کي د هغوی خلقی-پرچمی افراطي پلويان قدرت تر لاسه کړی. لنده دا چی دواړو اشغالګرانو يو ټاکلی او معين تجويز نه درلود.

دواړو سوپر پاورانو تلوار او بېړه کړې ده. مانا دا چي د افغانستان سياسي او نظامي شرايطو، دواړه ستر طاقتونه دېته اړ ايستل چي افغانستان ته په بېړه ور ودانګي. البته، د شوروي اشغال يو صريح تجاوز او تېری وو. او د امريکايانو اشغال د طالبانو حماقت او سر ټمبه ګي وه. بلخوا، امريکا نن ورځ په هغه جنجال اخته ده چي شل کاله پخوا شورويان ور سره لاس او ګريوان وه. ځکه زه فکر کوم چي که چيري ملاعمر يا اسامه بن لادن او ور سره د القاعدې قاتلان له ملک ايستلي وای ، او يا يې امريکايانو ته پلاس ورکړي وای، زه يقين لرم چي ملاعمر به تر اوسه پوري په کندهار کي ناست او د پخوا په شان به اميرالمومنين وای. نو بنا، زما په نظر د ۲۰۰۱ د امريکايانو اشغال، کلاما يو تصادف او ناځاپه حادثه وه. په بل عبارت، د سپتمبر د يوولسمی بربريت او وحشت امريکا دېته مجبوره کړه چي افغانستان اشغال کړي. لنده دا چي دا دواړه اشغالونه تر ډېره حده د ستراتيژيکی پلانونو په اساس ندی سوی، بلکی د يو تصادف او پېښي محصول دي.

بلخوا، که چيري د افغانستان د ديرش کلن ناروين دواړه اشغالونه سره پرتله کوو، د شورويانو او امريکايانو مداخلي د هېواد ملی وحدت او يووالی ته کاري صدمي ورسولي.

لمړی، دواړو اشغالګرانو فاسد، بې کفايته ، او افغان ضد حکومتونه تقويه کول . شورويانو افغاني کمونستان چی د حکومت کولو ابتدايي چم او هنر يې هم نه وو زده، پر افغانانو په زور او ظلم وتپل . ځرنګه چي شورويانو او خلقی –پرچمی حکومت دننه په افغانی جامعه کی هيڅ ښس، محبوبيت ، او ملاتړ نه لاره، نو بنا سمدستی د خپل


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

سوسیالست حامي مستقیمو پوځي او اقتصادي حمایت ته اړ سول؛ او د افغانانو د مشروع مقاومت په ځپلو کي یې د روسي متجاوزینو سره اوږه په اوږه برخه واخیستله.

په افغانستان کی،د روسیي اوسنی سفیر، ښاغلی کابلوف،د شوروی د ماتي او د امریکایانو د اوسنیو مشکلاتو په باب وایی:" موږ غوښتل چی پر افغانانو باندي یوه نا اشنا ایدیولوژي وتپو. موږ غوښتل چی په یوه قبایلي ټولنه کی کمونزم عملی کوو . مګر مات او ناکامه سوو. هغه ادامه ورکوي او وایي: فعلا، امریکایان غواړی چی پر افغانانو باندی یوه خارجی او نا اشنا مفکوره تحمیل کړی. زه یقین لرم چی دا معامله هم ناکامه ده. ځکه نه موږ او نه هم امریکایانو د عامه افغانانو په ژوند کي کم مثبت بدلون راوستی دی. موږ هم افغانان بمباری کول، او امریکایان هم بي ګناه افغانان وژنی."

دغه راز، په افغانستان کی د امریکا په ملاتړ ننني فاسد حکومت هم نه په خلکو کی بیس او ملاتړ لری، او نه هم د حکومت او ګورننس په چل او هنر پوهیږی. په افغانستان کي، د امریکا د تیل سویوحاکمانو مطلق اکثریت حرفوي غله او داړماران دي. امریکا پر افغانستان باندی داسی خلک تحمیل کړیدي چی زیاتره یي د طالبانو له ډاره د هندوکش په ځګو او سرو غرونو، تور تونلونو، او سپیرو سموڅو کی پټ او لړزېدل. یا یي د تاجیکستان، روسیي، او ایران په ښارونو کی د مخدره موادو دقاچاقو کاروبار کاوه، او یا یي د ایراني ایت الله ګانو او یا د روسیي د پخوانیو ماتو کمونیستانو سره د "شیطان بزرګ" او "امپریالیزم" پټ پټ مذمت او غیبت کاوه.

دواړه اشغالګران د افغانستان په قومی جوړښت کی لاسوهني کوي. روسانو قومی ملیشاوی جوړي کړي. دوستم، جبار، عصمت مسلم، او تر ډېره حده د مسعود په مشری د افغان ضد د شمال ایتلاف اصلي طراحان روسان دي. مسکو د شمال ایتلاف د طالبانو پر خلاف نبغ په نبغه مسلح او حمایه کاوه. د ۱۹۹۰ په کلونو کي مسکو د شمال ایتلاف او پخواني کمونستان د ستراتیژیکي "سیاسي پانګي" تر چتر لاندي سره ګډ او یوموټي کړل.

نن سبا،امریکایان هم د خپلو غلطو پالیسیو له امله په افغانستان کی قومی او ژبنی اختلافاتو ته لمن وهی. امریکایانو له لمړی ورځی څخه د داسی خلکو سره ایتلاف وکړ چی افغان او په تېره بیا پښتون ضد مفکوري یي لرلي. ځکه د امریکا او ناټو په مطلق پوځي حاکمیت او تسلط کي د دوستم ملیشا، د فهیم ډانګیان، حضرت علي، سیاف، رباني، او په مجموعه کی د شمال ایتلاف د کرزي د حکومت ټول اساسي ارګانونه ونیول. د بوش د اداري همدې غلطي پالیسی زیاتره افغانان د متحده ایالاتو د نیت او خیال په ارتباط شکمن کړل. ځکه په ملک کی د مشهورو قاتلانو او داړمارانو سره ایتلاف کول، هغوي حمایه کول،هغوی ته پیسي او منابع ورکول، حتمی بومي او ځایي اپوزیشن را پاروی.

د پوځي اشغال په مقابل کي نشنلیستي مخالفت را پیدا کېدل د جهان او انسان د تاریخ یوه تکراری تجربه ده. عموما، خارجي اشغال ملي او ولسي مقاومت رېږروي ، په تېره بیا چي یرغلګر طاقت په قومي تبعیض متهم وي. زما په خیال د بوش په اداره کي په لمړیو شپږو کي د پښتنو پر خلاف احساسات او فکر موجود وو. وروستي تاریخي شواهد ښیي چي د بوش اداري په نظر ټول پښتانه طالبان او القاعده وه. ځکه د بوش اداري سیاسي او فکر ي جوړښت مذهبي او مسیحي راست او محافظه کاره وو . په بل عبارت، ښاغلی بوش یوکرسچین طالب غوندي سیاسي او فکري تمایلات لرل. د سي اي ي یو مامور، میلټن بېرډن، وایی: "د اوسنی طالبانو یو بل نوم قهریدلي او خپه پښتانه دی." د سی ای ي د نورو مامورینو په اثار و کي هم دا په ډاګه کېږی چی د سپتمبر د تروروېستی حملو را وروسته، د افغانستان په متعلق د بوش په پالیسیو کي د پښتنو پر خلاف څرګند مخالفت او دښمنی موجوده وه.

زما ددې ادعا ښه مثال د فرسټ این په نامه کتاب دی. د فرسټ این د کتاب لیکوال، ګېري شرون، د سي ای ي د هغي لمړی ډلی مشر دی چي په پنجشیر کي کښته کېږي اود افغانستان د اوسني غمجن حالت بنسټ ږدي. هغه پخپل کتاب کي دلته او هلته په ډېر مهارت پښتون ضد احساسات بیانوی، او تر هغه را وروسته دافغانستان په اړه د متحده ایالاتو پالیسی څه قومي او سمتي رنګ او خوند لري. همدا وجه ده چی نن سبا په ټولو پښتنی سیمو کی د کرزی او امریکایانو پر خلاف بشپړ بنورښ او جنګ روان دی.

خلک لیونی ندی چی وسله واخلي او غرونو ته وخېژي. بلکي افغانان د کرزی او د هغه د خارجی حامیانو له وچ ظلم او تېری څخه جنګ او تباهی ته مخه کړې ده. نن سبا، په افغانستان کی ټول لوی ښارونه، د شورویانو د وخت په شان، محاصره او کلابند دي. کرزی او د هغه ناشولټه انډیوالان له ډاره له کوره نسی را وتلای. کورونه یي جنګی کلاوي غوندی بریښی، خو حتی په خپلو کورونو کي هم د طالبانو له بېری او هیبت څخه رپي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

زه فکر کوم چي له دغو دوو خارجي مداخلو څخه پخوا هم په افغانستان کي قومی او ژبنی اختلافات وه. افغانستان یوه څو قومي ټولنه ده. نوبنا، هلته به ضروري قومي ، ژبني، او سیمه ایز اختلافات او تاوتریخوالي موجود وي. مګر دغو دوو اشغالونو د افغانانو خپلمینځی قومي او سمتي اختلافات لا حاد او مرګاني کړل. پدې تېرو دیرشو کلونو کی، موږ ټول ددې شاهدان یو چی د هېواد په بېلا بېلو برخو کی ډلییزي قومي او سیمه ایز وژنی او قتل عامونه سوی دی. دا ژوندي تاریخ دی. له دې څخه سترګي نه سو پټولای.

نن ورځ، افغاني ټولنه ټوکر ټوکر او پر مختلفو ډلو باندي وېشلې سوې ده. اقتصادي مشکلاتو د افغانانو څخه د خپل سیاسي ژوندانه د سمولو فکر او خیال بېخي هېر کړی دی. افغانان پخپل کور کي بې واکه، بې حکومته، او بې استازي سوي دي. زه باور لرم چي جمهورریس بوش نه یوازي د عراق په اړه درواغ او دوکه کړېده،بلکي د افغانستان په ارتباط یې هم ډېره زیاته ټګي برګي وکړه. لکه څرنګه چی په عراق کي د بوش تباه کونکو پالیسیو فرقوي او سکتوري جنګونه پیل کړل، دغه راز یې په افغانستان کي هم مرګاني قومي او سیمه ایزو اختلافاتوته لمن ووهل.

زه هیله من یم چي د افغانستان په ارتباط د امریکا د ځوان او هوښیار جمهورریس ښاغلی اوباما نوې پالیسۍ کامیابه سي. زما په ګومان که چیري ښاغلي اوباما غواړي چي له افغانستان څخه بل ویتنام جوړ نه سي، په افغانستان کي باید د یوه پاک او قوي مرکزي حکومت په لټه کي سي. د کابل اوسنی حکومت بېکاره، فاسد، او شډل دی. تاریخ ښودلې ده چي په ډارونو خلکوحکومت نه کېږي. د کرزي اوسنی حکومت د مشروعیت او قانونیت په څرګند کسر او ډفیسټ اخته دی.

زه عقیده لرم چي د نني بن بست څخه د راوتلو یوازنۍ لاره دا ده چی په افغانستان کي عدالت او انصاف راسي . یو داسي حکومت چي پکي د قومي کوټا پر اساس وزارتونه نه وي وېشل سوي، بلکي معیار لیاقت، خدمت،ښاېسته سالاری، او د امریکایانو په اصطلاح هارډ ورک وي. یو داسی حکومت چي په ملي ژبو او ترمینالوژۍ باندي د حکومت په سویه ملنډي و نه وهل سي. زه ایمان لرم چي هله به ملي وحدت او یووالي ورو_ ورو ټینګ او غښتلي سي. د افغان ولس کورنی او بهرنی غلیمان به کمزوري او رسوا سي. زه باور لرم چي د ملي وحدت لپاره تر ټولو مطمینه او سیده لاره د امنیت او عدالت تامینول دي. بې عدالتي د ټولو مشکلاتو مور ده. په افغانستان کي د بې عدالتۍ او ظلم په خاطر خلک غرونو ته ختلي دي. زه ایمان لرم چي د ددغه رواني بې انصافۍ ختمېدل به ضرور په افغانستان کي سوله او امنیت تامین کړي. او بالاخره، زه ایمان لرم چی هیڅ ملت یوازی په زور او قهر نسی ایلېدلای.. زه ایمان لرم چی د امپراتورۍ او وچ زور وخت تېر دی. و السلام.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de